د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشــــاد، حــــج او اوقافــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير اوبيان**

**چې د هيواد دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو**

**ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

**۲۵/ شعبان المعظم/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۴/ دلو/۱۴۰۴هـ، ش**

# د نشه يي موادو استعمال ددين، عقل او ټولنې د تباهۍ لامل دی

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي منحنا نعمةَ العقل وأحلَّ لنا الطيبات، وحرَّم المُسكِر والمُخدر وسائر المحرَّمات، والصلاة والسلام على مَن أُوتي جوامعَ الكلم، ومفاتيح الفهم والعلم، وعلى آله وأصحابه والتابعين إلى يوم الدين، وبعد:

فقال الله تعالى في محكم التنزيل:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ * إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ). [المائدة:(۹۰، ۹۱)

**درنو او محترمو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله تعالى اسلامي شريعت د خلکو د مصالحو د تأمينولو  او د خلکو د ژوند څخه د مفاسدو او ضررونو د لرې کولو لپاره راليږلی دی ، نو د الله تعالى حکمونه او اوامر ټول مصالح دي او د الله تعالى نواهي او منهيات ټول خالص مفاسد او ضرر دی.

الهي اوامر او احکام خالص مصالح دي او د الله تعالى مناهي خالص مفاسد دي.

د هغو شيانو له جملې څخه چې الهي شريعت ورڅخه منع  کړی ده يو هم د نشه يي موادو استعمال دی.

نشـه يي مواد ټولو هغو شـيانو ته ويل کيږي،چې عقل تر پوښښ لاندې راولي او عقل غائبوي او يا يې فاسدوي،لکه شراب ،مسکرات او مخدره مواد

د مخدره موادو په تعريف کې فقهاء کرام ليکي:(مَا يُغَيِّبُ الْعَقْلَ دُونَ الْحَوَاسِّ لَا مَعَ نَشْوَةٍ وَفَرَحٍ كَالْأَفْيُونِ). الفروق، للقرافي، (۱/ ۲۱۵)

ژباړه: (مخدِّر) هغه (مواد) دي چې عقل غائب کړي او حواس غائب نکړي او نه وي ورسره مستي او خوشحالي، لکه افيون.

علامه صاوي رحمه الله وايي:(الذي يغيب العقل دون الحواس لا مع نشوة وطرب).الشرح الصغير على أقرب المسالك (٤٧/١)

ژباړه: (مخدر) هغه شي ته ويل کيږي چې عقل غائب کړي او حواس غائب نکړي او مستي په کې نه وي.

په وجود کې سستي راوستونکي (المفتِّرات) مواد هم په نشه يي موادو کې شامليږي.

امام خطابي رحمه الله د (المفتر) کلمې په تعريف کې وايي:( المفتر: كل شراب يورث الفتور والخدر في الأطراف ). معالم السنن للخطابي (٥/ ٢٦٩)

ژباړه: مفتر: هر هغه څښاک دي، چې په لاسونو او پښو کې سستي پيدا کوي.

همدا راز نشه يي مواد مختلف ډولونه او قسمونه لري، لکه چرس، افيوم، کوکاکين، مورفين، بنګ، جايفل او د پاند پاڼه.

بيا دا نشه مواد ځينې يې جامد دي او ځينې نور يې پوډرو شکل لري، ځينې نور يې مائع او د زرقياتو په شکل کې دي.

همداراز ځينې نشه يي مواد په خوله خوړل کيږي، ځينې نور يې ژوول کيږي ، ځينې نور يې د لوګي په شکل کې استعماليږي او ځينې نور يې د بيچکارۍ په وسيله د رګونو د لارې جسم ته داخليږي.

همدا شان دځينو نشه يي موادو د نشې کچه ډيره زياته ده او د عقل او بدن نورو اعضاوو لپاره ډير خطرناک دي او دځينو نورو د نشې کچه متوسطه ده ، خو داچې په ټولو نشه يي موادو انسان روږدی کيږي او په نشو روږدي کسان يې تل استعمالوي، چې په نتيجه کې د متوسط نشه يي موادو ضرر د ورځو او مياشتو په تيريدو هم خطرناک ګرځي.

دا چې نشه يي مواد ددين، ځان، عقل ، مال او د ټولنې د تباهۍ سبب ګرځي ، پرته له تداوۍ او ضرورت څخه استعمال يې حرام دی.

د نشه يې موادو استعمال د انسان ځان، دين او عقل د تباهۍ سره مخ کوي او په شريعت کې مونږ د ځان په حفاظت مکلف يو. بناءً د نشه يې موادو د استعمال څخه ځان ساتل لازم دي.

اسلامي شريعت پر مونږ باندې د پنځو شيانو حمايت او حفاظت لازم کړی دی، چې هغه زمونږ دين دی، زمونږ نفس دی، زمونږ عقل دی،زمونږ مال دی او زمونږ عزت او آبرو ده او د نشه يې موادو استعمال زمونږ دين فاسدوي او زمونږ نفس، عقل او مال تباه کوي او له هلاکت سره يې مخ کوي

الله تعالی مونږ ته امر کړی دی چې ځانونه په تباهۍ کې مه اچوئ. الله تعالی فرمايلي دي:(وَلا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ).البقرة:( ١٩٥)

ترجمه:او مه غورځوئ ځانونه خپل په هلاکت کې (چې جهاد ترک کړئ او خپل مالونه په غزا کې ونه لګوئ!)

**د استدلال وجه:** الله تعالی په ذکر شوي آيت کې فرمايلي دي چې تاسو خپل نفسونه او ځانونه په خپلو لاسونو سره په هلاکت کې مه اچوئ.د هلاکت موارد زيات دي او هر هغه کار چې له امله يې انسان ځان د خطر سره مخ کيږي د هغه کار کول حرام او ناروا دي .

او ددغو د هلاکت له مواردو څخه د نشه يي موادو استعمال دی.

امام ماوردي رحمه ددې آيت په مورد کې وايي:(أنه عام محمول على جميع ذلك كله ، وهو قول أبي جعفر الطبري) . النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (١/ ٢٥٤)

دا مبارک آيت عام دی او په ټولو ذکر شوو مواردو باندې حمل دی او همدا د امام طبري نظر هم دي.

همدارنگه الله تعالی په يو بل مبارک آيت کې فرمايلي دي:(وَلا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً). النساء:(٢٩)

ترجمه:او وژنئ تاسې سره ځانونه خپل (يعنې يو بل ، يا مه کوئ تاسې هغه کار چې تاسې د هلاکت سبب وي) بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان.

**د استدلال وجه:** الله تعالي فرمايلي دي چې تاسو خپل ځانونه مه وژنئ. يعنې داسې کار مه کوئ چې له امله يې ستاسو نفس له منځه لاړ شي او هلاک شي. په دې مبارک آيت کې نور توجيهات هم مفسرينو ذکر کړي دي.

دا مبارک آيت د ځان د حفاظت په باره کې صريح دی ،ځکه د مرگ د اسبابو څخه ځان ساتل د ځان او نفس حفاظت گڼل کيږي او هغه څه کول چې له امله يې نفس او ځان له خطر سره مخ کيږي ، دا په حقيقت کې ځان مرگ ته وړاندې کول دي، لکه د زهرو خوړل، د ترياکو خوړل، د نشه يي موادو خوړل او څښل او داسې نور.

همدارنگه د نفس د بقاء او حفاظت لپاره الله تعالی په انسان لازم کړي دي چې خوراک وکړي ، څښاک وکړي دترڅو ژوندی پاتې شي.

د انسان د نفس دحفاظت لپاره الله تعالی د (صيام الدهر) د ټول عمر روژو نيولو څخه منع کړی ده .

د انسان د نفس د مصئونيت لپاره شريعت د وباء ځای ته د ورتللو څخه منع کړی ده او ددې څخه يې ممانعت کړی چې روغ انسان مريض(چې مرض يي ساري وي) انسان خواته ور وستل شي.په حديث شريف کې راځي: عن أَبِيَ هُرَيْرَةَ يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ» صحيح البخاري (٧/ ١٣٨)

ژباړه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: نه دې ور وستل کيږي مريض انسان په روغ انسان باندې.

محدثين وايي چې ددې مريض څخه هغه مريض دی چې د هغه مريضي ساري وي.

د نشه يي موادو استعمال ښکاره ځان ته ضرر رسول دي ، کوم چې په حديث شريف کې ورڅخه منع شوی دی.

امام مالک رحمه الله په مرسل روايت سره او امام ابن ماجه او امام دارقطني په مسند روايت سره دا حديث نقل کړی دی:عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَضَى أَنْ لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ».موطأ مالك (٢/ ٧٤٥)، ابن ماجه (٢/ ٧٨٤)، الدارقطني (٤/ ٥١)

ژباړه: حضرت عُباده بن صامت رضي الله عنه وايي چې بيشکه نبي عليه السلام داسې فيصله وکړه چې نشته(په اسلام کې) ځان ته ضرر رسول او يا بل چا ته ضرر رسول.

او ځان ته يا بل چاته ضرر رسول ممنوع کړنه ده او هيڅاته په اسلام کې اجازه نشته چې قصداً ځان ته ضرر ورسوي او يا بل چاته ضرر ورسوي.

**د نشه يي موادو په استعمال کې ددين تباهي ده.**

د نشـه يي موادو په استعمال سره د انسان دين د تباهۍ سره او کمزورۍ سره مخ کيږي. الله جل جلاله فرمايلي دي:( إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ).المائدة: (٩١)

ترجمه: بېشکه چې همدا خبره ده غواړي شيطان چې واچوي په منځ ستاسې کې عداوت (دښمني) او بغض (کينه په څنبلو) د شرابو کې او

(کولو د) قمار کې او اړوي تاسې له ياده د الله او له لمانځه څخه نو آيا يئ تاسې منع کيدونکي (اوښتونکي له دې بدو کارونو؟ بلکه واوړئ).

**د استدلال وجه:** الله جل جلاله فرمايلي دي چې شراب او قمار دا دواړه پرتاسې ځکه حرام دي ، چې دا تاسې د الله تعالی د ذکر او لمانځه څخه منع کوي. چې همدا علت په نشـه يي موادو کې هم پروت دی او نشـه مواد انسان د الله تعالی د ذکر او لمانځه څخه منع کوي او دانسان دين ته زيات نقصان رسوي او هغه کمزورۍ کوي.اگر چې د شرابو او د نشه يې موادو ترمنځ فرق شته او حرمت د شرابو غليظ دی نسبت نشه يي موادو ته لکه چې علامه علاء الدين حصکفي رحمه الله ليکلي دي: ( لکن دون حرمة الخمر). الدر المختار (٧/ ١٤)

ژباړه: مگر (حراموالی )د بنگو او چرسو کم دی نسبت شرابو ته.

کله چې انسان په نشه يي موادو روږدی شي ، هغه بيا دځان د نظافت خيال نه ساتي ، هغه په چټليو کې ناسته او ولاړه کوي، په نشه يي موادو د روږدي انسان جامي پاکې نه وي چې لمونځ پرې وکړي، هغه د جنابت څخه غُسل نکوي ، اودس نکوي، لمونځ نکوي، روژه نه نيسي او روژه نشي نيولای ، ځکه د ځينو نشه يي موادو اعتياد دومره قوي وي، چې هغه څو ساعته وروسته بايد نشه يي توکي استعمال کړي او که استعمال يې نکړي هغه مريضيږي او ځان يې سخت درد کوي.په نشو روږدی انسان د نورو نشه يانو سره تل جگړې کوي او د نشه موادو د ترلاسه کولو لپاره بايد غلا وکړي چې غلا کول لويه گناه ده او دانسان دين کمزورۍ کوي.

په نشو روږدی انسان د خپل اهل او عيال حقوق نه پرځای کوي او د بچو نفقه چې د هغه په غاړه ده ، نشه يي شخص دغه حق نه اداء کوي او د نشه يې موادو د استعمال په وجه د خپل اولاد سالمه تربيه نکوي او دده د نشو په وجه دده اولاد هم بې لارې کيږي او د خلکو د ظلم ښکار کيږي ، چې ذکر شوو صورتونو له امله د نشه يي شخص دين او ايمان ډير ضعيفه وي او د نورو خلکو د حقوقو قرضداری وي.

د نړيوالو او عالمي احصائيو له مخې په اکثرو مواردو کې په نشه يي موادو روږدي کسان د بې گناه خلکو په وژلو کې گرم گرځول شوي دي.

همدارنگه د نشه يې موادو استعمال دانسان عقل فاسدوي او تباه کوي ، نو ځان ساتل ورڅخه لازم دي، ځکه چې په شريعت کې د عقل حفاظت د شريعت د پنځو مقاصدو څخه دي.

الله تعالی د انسان د عقل د حفاظت په موخه شراب حرام کړي دي ،ځکه چې شراب عقل زائلوي او هغه فاسدوي.

او نشه يې مواد هم لکه د شرابو په څير عقل غائبوي او عقلي سيستم تباه کوي . بناءً د نشه موادو څخه ځان ساتل لازم دي.

همدارنګه په حدیث شریف کې د مسکراتو او مفترِّاتو څخه منع راغلی ده.

عن أمِّ سلمة، قالت: «نهى رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم - عن كُلِّ مُسْكِرٍ ومُفَتِّرٍ». سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٥/ ٥٢٩)

ژباړه: د حضرت ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هر نشه کوونکي شی او هر سستوونکي شی څخه نهی کړی ده.

ابن البیطار وایې چې د نشه یې موادو قبائح بې شمیره دي او ځینو علماء کرامو د نشه یي موادو دیني او دُنیوي قبائح یوسل او شل ذکر کړي دي چې دغه ټول قبائح ټول په افیومو کې موجوددي. الفقه الإسلامي وأدلته (٧/ ٤٤٦)

وقال الحسن البصري رحمه الله: لو كان العقل يشترى لتغالى الناس في ثمنه، فالعجب ممن يشتري بماله ما يفسده.

ژباړه: امام حسن البصري رحمه الله به ویل: که چیرې عقل خرڅیدلی، نو خلکو به د عقل په قیمت زیاته ګراني راوستې وه ، نو تعجب دی هغه چا ته چې په خپلو مال باندې داسې څه اخلي ترڅو خپل عقل وربانديې فاسد کړي.؟!

د مخدره او نشه یې موادو تر ټولو لوی ضرر دادی چې دا عقل او مزاج فاسدوي او کله چې د انسان عقل او مزاج فاسد شي ، بیا د انسـان هیڅ ارزښت نشـته. په نشه یې موادو اخته انسان چې کله نشه یې مواد استعمال کړي بیا دهر ډول ګناهونو او خطاګانو مرتکب کیږي چې خلک ورڅخه نفرت کوي او کله چې په هوش کې راشي په خپلو کړنو هیڅ پیښماني نه ښکار کوي.

علامه ابن عابدین رحمه الله په نشه یي موادو د روږدو کسانو د دین دکمزروی په اړه لیکي: ( ويحرم أكل البنج والحشيشة ) هي ورق القنب ( والأفيون ) لأنه مفسـد للعقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاة ( لكن دون حرمة الخمر ، فإن أكل شيئا من ذلك لا حد عليه وإن سكر ) منه ( بل يعزر بما دون الحد ). رد المحتار (٢٧/ ٢٢٠)

ژباړه: (حرام دي خوړل د بنګو او ځښـل د چرسو) چې دا دپان پاڼه ده ( او حرام دي خوړل د افیونو) ځکه چې دا شیان عقل فاسـد کوي او د الله تعالی د ذکر څخه منع کول کوي او دلمانځه څخه منع کول کوي.(مګر ددغو شـیانو حراموالی د شرابو د حراموالي څخه کم دی، که چیرې (چا) وخوړل څه اندازه له دغو څخه ،نو حد وربانديې نشته ولو که نشه شو) له دغو موادو نه( بلکې تعزیر به ورکولی شي ، د حد څخه کمه اندازه.

آن تر دې پورې چې ځینې حنفي مجتهدینو او علماوو د هغه چا طلاق واقع بولي چې نشه یې مواد استعمال کړي او په عقل کې خلل واقع شي او ښځې ته طلاق ورکړي.

(وفي الْبَزَّازِيَّـةِ الْمُخْتَارُ في زَمَانِنَا لُزُومُ الْحَدِّ لِأَنَّ الْفُسَّـاقَ يَجْتَمِعُونَ عليه وَكَذَا الْمُخْتَارُ وُقُوعُ الطَّلَاقِ لِأَنَّ الْحَدَّ يُحْتَالُ لِدَرْئِهِ وَالطَّلَاقُ يُحْتَاطُ فيه). البحر الرائق (٣/ ٢٦٦)

ژباړه: په فتاوی البزازیه کې راځي: مختار قول زمونږ په زمانه کې لزوم د حد دی (د نشه یي موادو په استعمالوونکي باندې)ځکه فاسقان وربانديې راټولیږي او همدارنګه مختار قول وقوع د طلاق دی (د نشه یي شخص طلاق د نشې په وجه) ځکه په حد کې د حیلې څخه کار اخیستل کیږي چې نافذ نشي او په طلاق کې کولی شي.

علامه شـامي رحمه الله په دې موضـوع کې وایي:(والحق التفصـيل، وهو إن كان للتداوي لم يقع لعدم المعصـية، وإن للهو وإدخال الآفة قصدا فينبغي أن لا يتردد في الوقوع.وفي تصحيح القدوري عن بالجواهر: وفي هذا الزمان إذا سكر من البنج والافيون يقع زجرا، وعليه الفتوى). حاشية رد المحتار (٣/ ٢٦٤)

ژباړه: حق خبره داده چې په دې موضوع کې تفصيل دی، که چيرې نشه يي مواد د تداوۍ لپاره استعمال کړي وي ، طلاق يې نه واقع کيږي ځکه معصيت په کې نشته او که چير د مستۍ او للهو ولعب لپاره يې استعمال کړي وي او قصدا يې د آفت د داخليدو لپاره يې استعمال کړي وي بيا پکار ده چې دداسې شخص د طلاق په واقع کيدو کې تردد ونشي.

په تصحيح القدوري کې د الجواهر په حواله راځي ، په موجوده زمانه کې کله چې بيهوشه شو د بنگو او افيونو په وجه (او ښځې ته يې طلاق ورکړ) نو د داسې کس طلاق زجراً واقع کيږي او په همدې قول باندې فتوی ده.

**د نشه يي موادو شخصي او فردي زيانونه:** د نشه يي موادو د استعمال ضررونه يواځې د نشه يې موادو پر استعمالوونکي پورې منحصر نه دي ، بلکې د نشه موادو ضرورنه او تباهي د هغه کورنۍ ، اولادونه او ټولنه متضرره کوي.

د نشه يې موادو په وجه د نشه يي موادو د استعمالوونکي صحت ، اعصاب ، عقل او فکر ، هاضمي جهاز ټول تخريبوي او له منځه يي وړي او د هغه انساني کرامت ختمه وي او د خلکو د خندا او مسخرو وړ گرځي او د مختلفو مرضونو تر بريد لاندې واقع کيږي.

د نشه يي موادو ضرر يواځې په جسمي او عقلي زيان نه تماميږي بلکې د نشه يي موادو په استعمال سره د هغه مال ضائع کيږي او د نشه يي شخص مال په داسې ځای کې مسرفيږي چې پرته د ضرر او نقصان بل څه فائده نلري. په حديث شريف کې د مال له ضائع کولو څخه ممانعت راغلی دی. نبي عليه السلام فرمايي:(إِنَّ اللَّهَ كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا قِيلَ وَقَالَ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ ). صحيح البخاري ت (۳/ ۵۲۹)

ژباړه: بيشکه الله تعالی بد گڼي ستاسو څخه درې شيان ، بې ځايه او بې فايدې خبرې، او د مال ضائع کول او زياتې پوښتنې کول.

د نشه يي موادو استعمالوونکي په ناوړه مرگ سره مري . څوک ورڅخه خبر نه وي چې يا موټر وهلی وي مړ وي، يا چيرته په نهرونو او پټو ځايونو کې مړ وي او کورنۍ ورڅخه خبره نه وي.

## د نشه يي موادو عقلي او جسمي تباهي او ضررونه:

نشه يي او مخدره موادو استعمال جسم ته مختلف ډول ضررونه او زيانونه رسوي چې ځينې مشهور ضرورنه يې دادي:

**۱-عقلي او عصبي ضررونه:** نشه مواد په دماغو ډير بد تاثير کوي او د هيروئينو او کوکائينو او د شيشې په استعمال سره ددماغو برقي فعـاليـت له کاره وليږي او د حواســو ، تفکير او مزاج په فعاليت کې ناوړه خلل رامنځ ته کوي او حواس ، فکر او مزاج گډوډوي.

همداراز په چرس او افيون د عصبي جهاز مرکز باندې بد تاثير کوي او عصـبي توازن مختل کوي، چې په نتيجه کې عقلي تشوشات او اضطرابات رامنځ کيږي.

د افيونو او چرسو د استعمال په وجه انسان افسردگي، اضطراب او جنون هم رامنځ ته کيږي.

**۲-د هاضـمي جهاز ، زړه او د ويني د رگونو زيانونه:** د نشه موادو استعمال د هاضمې جهاز، زړه او شرياني رگونو مرضونه رامنځ ته کوي لکه معدې جوش، قيء ، قبض ، بې اشتهايي، د معدې او مرۍ سرطاني مرضونه .

د نشه يي موادو استعمال قلبي او د زړه مرضونه رامنځ ته کوي لکه د زړه دضربان زيادت، لوړ فشار چې د زړه د کمزورۍ سبب گرځي او په ځينو وختونو کې د نشه موادو استعمال د زړه د پردې د التهاب او د شرياني رگونو د سختيدلو سبب گرځي.

**۳--د تنفسي جهاز ، جگر او گردو ضررونه:** د نشه موادو استعمال تنفسي جهاز ، د جگر او گردو مرضونه رامنځ ته کوي. د چرسو او تنباکو استعمال تنفسي مرضونه رامنځ ته کوي لکه دائمي ټوخی، سالنډی، د شوشونو بنديدل او په شوشونو کې مزمن مرضونه رامنځ ته کول، چې په نتيجه کې د مرۍ د سرطان لامل گرځي.

همدار از د نشه يي موادو استعمال دجگر، گردو مرضونه رامنځ ته کوي او په ځينو حالاتو کې د نشه يي موادو استعمال د جگر او د گردو او مثانې سرطانونه زيږوي.

## د نشه يي موادو داستعمال ټولنيز تباهي او زيانونه:

۱-د نشه يي موادو استعمال ډير زيات ټولنيز ضررونه او خطرونه لري او د نشه يي موادو استعمال د ډول ډول جرايمو سرچينه ده، لکه د عزتونو پايماليدل، د فواحشو ارتکاب، ځکه چې نشه مواد د جرمونو او بداخلاقيو ستره وسيله ده او د نشه يي موادو استعمال د خلکو بې شميره کورونه ړنگ کړل، ډير زيات مالونه يې ضائع کړل، او ډيرى صله رحمۍ يې له منځه يوړلې او د نشه يي موادو استعمال د کبائرو گناهونو اساس دی او د گردو خبيثه کارونو بنياد دی او د ټولو مصيبتونو او شرونو سبب دی.

غير اسلامي ټولنې هرکال په مليارډونو پيسې ددې خبيثه توکو او ټولنيز مرض د مخنيوي لپاره مسرفوي، مگر بيا هم ددې تباه کوونکو موادو په مخنيوي کې پاتې راځي.

۲-نشـه يي مواد بې شـميره فردي، کورني او ټولنيز زيانونه او ضررونه له ځانه سره لري، لکه د نشـه يي اسـتعمالوونکو خلکو مريضي او د ددوی ويره وونکي مرضونه چې له امله يې ټولنه د سترو گواښونو او مصيبتونو سره لاس او گريوان وي او دا ځکه چې د نشه يي موادو استعمالوونکی شخص هم د ټولنې غړی دی او دده ښه حالت او بد حالت په ټولنه باندې رغنده اثر پرې باسي او کله چې په ټولنه کې په نشو روږدي کسان زيات شي ، نو په ټولنه کې د مريضانو کچه زياتيږي او کله چې په ټولنه کې مريضان زيات شي، نو ټولنه د زيات شمير مريضانو له معالجې څخه عاجزه شي او بيا نشي کولی چې له ځان څخه دفاع وکړي او بيا ټولنه داسې حالت ته ورسيږي چې د خپلو اړتياوو په پوره کولو کې پاتې راشي. داسې ټولنه نشته، چې په هغه ټولنه کې نشـه يي توکي په هرځای کې پيداکيږي او هغه ټولنه دې قوي او هوسـا وي، بلکې داسـې ټولنه به حتماً د اساس څخه ړنگيږي.

۳-همداراز په نشو اخته کسانو ته د جرائمو ترسره کول ډير عادي وي او هر ډول جرم دوی په اسانۍ سره کوي او د خپلو نشو د تر لاسه کولو لپاره دوی هر قسم کار کوي لکه قتل ، غلا، چور او چپاول،چې له همدې امله د ټولنې د خلکو په منځ کې ويره ، خوف ، ناامني ، اضطراب او بې قراري خپريږي او د ټولنې اوسيدونکي د نشه يانو څخه هره لحظه په ويره کې وي او د ټولنې خلک د نشه يانو له ويرې په راحت او اسودگۍ ژوند نشي کولای.

۴-د نشه يي موادو استعمال د ژوند په هره برخه باندې اثر پرې باسي او د اسيدو حالت ، تعليمي ځايونه او اخلاقي برخې ټولې متأثره وي، ځکه چې په نشـو روږدي کسانو دا توپير نکوي، چې هغه يا د هغه کورنۍ دې په خالي ميدان کې د شنه اسمان لاندې شپه تيره کړي .هغوی ددې سره دومره علاقه نلري چې د خلکو په شان پاک او صحي خوراکي توکي وخوري ، بلکې هغوی ته مهمه دا وي چې د خيالونو او وهمونو څخه ډک نشه يي مواد ترلاسه کړي.

په نشـه روږدو کسانو ته دا باک نکوي چې د هغوی ښځې او اولادونه د خوراک لپاره څه لري او که نه یې لري او ډیر لیدل کیږي چې په نشـو د روږدو کسـانو ښځې د خوراک لپاره خواره نلري او تل وږي او تږي په سختو شرائطو کې ژوند تیروي او داسې هم پیښیږي چې په نشه یي موادو د روږدو کسانو بچي د خپلو اړتیا وو د پوره کولو لپاره ځینې یي غلاگانو ته مخه کوي او ځینې نور یې بیا سوالگري کوي او بالاخره د نشه یانو اولاد هم په نشو اخته کیږي، چې دا ټول حالات ټولنه تباه کوي، ټولنه بربادوي او ټولنه بدناموي.

۵-په نشه یې موادو د روږدو کسانو بچې بدشکله او په جسمي لحاظ کمزوري پیدا کیږي چې د مرضونو مقابله نشي کولای او په شفاخانو کې اکثره هغه ماشومان بستر وي چې پلرونه او میندې یې په نشو روږدي وي.

٦-د نشه یي موادو استعمالوونکو له امله د هغوی کورنۍ او فامیلي نظام شتون نلري او که لري هم هغه ډیر کمزوری وي او د کور د اعضاوو ترمنځ هیڅ همکاري موجوده نه وي ، بلکې دطلاقونو زیات واقعات په هغه کورونو او فامیلونو کې رامنځ ته کیږي چې هغه کور سرپرستان په نشه یي موادو اخته وي.

۷-په کومه ټولنه کې چې نشه یي مواد زیات موندل کیږي او زیات استعمالیږي هغه ټولنه د الله تعالی د منهج څخه ډیره لرې وي او داسـې ټولنه د دښـمنانو ددسـیسو ښکار کیږي او د نشه یې موادو د استعمالوونکو څخه په استفاده ټولنه د هلاکت او تباهۍ په لور روانه وي او ډول ډول جرمونه په کې ترسره کیږي.

۸-د نشه یي موادو استعمالوونکي د نشه موادو د لاسته راوړلو لپاره دې ته هم حاضر وي چې خپله لور، زوی خرڅ کړي ترڅو نشه یې توکي ور باندې واخلي او دداسې خلکو په کورنۍ کې فاحشه او زنا گانې هم کیږي.

**اللهم ربنا احفَظْ مجتمعاتنا واحمِ أولادَنا من المفاسد والشرور**

**اقول ، قولي هذا ، استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمین**